الدرس التاسع | نهم درس

المقر الدعوة الجديد | د اسلام د دعوت نوی محاذ

د حق او حق پرستو دپاره مدینه نوی امن والا ځائی پیداء شو ، مسلمانانو هلته هجرت شروع کړو، او دلته د مکې مشرکانو دا کلک عزم کړی وو ، چې مسلمانان د هجرت نه منع کړی ، مهاجرینو ددی وجه نه قسماقسم تکلیفونه برداشت کړل ، مسلمانانو به د قریشو د یری نه پټ پټ هجرت کولو ، ابوبکر صدیق رضي الله عنه به بار بار د نبی کریم ﷺ نه د هجرت اجازت غوښتلو لیکن نبی کریم ﷺ به ورته دا خبره کوله چې تلوار مه کوه ، کیدئشی الله تعالی تا له ملګرئ پیداء کړی ، تردی چې ډیرو مسلمانانو هجرت وکړو چې قریشو ته معلومه شوه چې د مسلمانانو طاقت مدینه کښې پیداء شو، د نبی کریم ﷺ د دعوت د ترقئ نه یریدل، خپل مینځ کښې دوي مشوره وکړه چه معاذ الله نبی کریم ﷺ به قتل کړو، پدی خبره متفق شو ، ابو جهل مشوره ورکړه چې د هری قبیلئ نه به یو یو ځوان له توره ورکړو، په یو ځل به حمله وکړی ، بیا بنو هاشم به د چا چا سره دشمنی کوی، الله تعالی د مشرکانو ددی سازش خبر نبی کریم ﷺ له ورکړو، د الله تعالی د حکم نه بعد نبی کریم ﷺ د ځان سره ابوبکر صدیق کړو ، او د سفر کولو اراده ئے وکړه ، د شپې علی رضی الله عنه ئے پخپله بستره باندی سملولو ، مشرکان راجمع شول ، د نبی کریم ﷺ د کور نه ئے ګیره واچوله ، د نبی کریم ﷺ د راوتلو په انتظار وو چې نبی کریم ﷺ د دوی په صفونو کښې راووتلو او په سرونو ئے ورله خاوری واچولئ او دوی ته هیڅ پته ونه لګیده ، پدی طریقه نبی کریم ﷺ د ابو بکر رضی الله عنه خواء ته راغلو، د مدینے په سفر د کور نه یوځائی روان شول ، اول غار ثور ته لاړل ، دلته قریشو دصبا پوری انتظار کولو چې کله د بستری نه علی رضی الله عنه پاسیدو ، مشرکان حیران شول، دوی د علی رضی الله عنه نه د نبی کریم ﷺ په باره کښې تپوس کولو خو هغه حال نه وئیلو ، علی رضی الله عنه ئے ووهلو لیکن څه فائده ئے ونکړه ، نو مشرکانو هر طرفته کسان خواره کړل ، اعلان ئے وکړو چې چا چې نبی کریم ﷺ ژوندی یا معاذ الله مړ راوړو ، سل (١٠٠) اوښان انعام دی، مشرکان تر غار ثور پوری وررسیدل ، کچرته یو تن خپلو ښپو طرفته لاندب کتلی وی نو دوی به ئے لیدلی وی ، ابوبکر صدیق رضي الله عنه سره د نبی کریم ﷺ په باره کښې غم ډیر شو، نبی کریم ﷺ وفرمایل : (مَا ظَنُّكَ يَا أَبَا بَكْرٍ بِاثْنَيْنِ اللهُ ثَالِثُهُمَا،لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللهَ مَعَنَا)ترجمه : اے ابوبکر! ستا څه خیال دی د هغه دوه کسانو په باره کښې چه الله ئے دریم دی، مه خفه کیږه الله تعالی زمونږ سره دی ، مشرکانو دوی ونه لیدل او نبی کریم ﷺ د ابوبکر صدیق سره په غار کښې دری ورځی تیری کړی، دی نه پس مدینے ته روان شو، لاره ډیره لویه وه ، او ګرمی ډیره سخته وه ، په دویمه ورځ د دوی تیریدل په یوه ښځه وشو چې د ام معبد په نوم باندی وه، دوی د هغی نه د خوراک څښاک طلب وکړو، د ښځی سره هیڅ نه وو، یوه کمزوری بیزه د خیمی یو طرف کښې وه چې د کمزورتیا د وجی نه څر دپاره نه شوه تللی، او یوه قطره پئ هم پکښې نه وو،

نبی کریم ﷺ د هغه بیزی خوا له لاړو، د هغی غولانزه ئے په لاسونو مبارکو مسح کړه ، د هغی نه پئ روان شو، یو لوښی ئے ډک کړو، دا حالت چې ام معبد ولیدو، حیرانه شوله، ټول پئ وڅښکل، دوباره ئے بیا لوښی ډک کړو، هغه ئے دام معبد سره پریښودو او سفر باندی روان شول ، دلته مدینے والا هره ورځ د مدینی نه بهر راوځی او د نبی کریم ﷺ انتظار کوی کله چې نبی کریم ﷺ مدینی ته راغلو نو ټولی مدینی والو د خوشحالئ د وجے د مرحبا مرحبا آوازونه کول ، نبی کریم ﷺ د مدینی جنوب کښې واقع قباء کښې دیره شو، څلور ورځی هلته وو، او د مسجد قباء بنیاد ئے کیښودو، په اسلام کښې اولنے مسجد دا دی ، په پنځمه ورځ نبی کریم ﷺ مدینی طرفته روان شو ، ډیرو انصارو صحابه کرامو دا کوشش کولو چې د نبی کریمﷺ د میلمستیا شرف حاصل کړی ، د اُوښی مهار ئے نیولی وو، نبی کریم ﷺ ددی خلقو د جذباتو شکریه اداء کوله او دا به ئے وئیل : (دَعُوهَا فَإِنَّهَا مَأْمُورَةٌ) دا اوښه پریږدئ، دیته امر کړی شوي دی ، اُوښه لاړه خپل ځائی کښې کیناستله ، بیا پاسیده بل ځائی ته مخکې شوه، بیا ئے خپل ځائی ته وکتل نو پاسیده او بیرته خپل مخکني ځائی ته راواپس شوه ، او کیناستله، نبی کریم ﷺ تری کوز شو ، او دغه ځائی ئے د مسجد دپاره منتخب کړو، رسول الله ﷺ د ابو ایوب انصاری کور کښې میلمه شو، علی رضي الله عنه دری ورځو پوری مکه کښې ایسار شو چې د رسول الله صلي الله علیه وسلم امانتونه وسپاری، بیا مدینی ته راغلو، قباء کښې د رسول اللهﷺ سره میلاو شو .